مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره:** ۹۹ (از ۱۳ الی ۲۰ جدی ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

**طالبان در چین!**

- پس منظر این سفر ........ ۳
- نقش چین در تامین صلح در افغانستان ........ ۴
- استفاده از تجربهٔ گذشته ........ ۴

**د "ملي وحدت" حکومت لومړی سل ورځې**

- داخلي سیاست ........ ٦
- امنیتي وضعیت ........ ۷
- د کابلبانک قضیه او اداري فساد ........ ۸
- خارجي سیاست ........ ۹
- سوله او د سیمې هېوادونه ........ ۹
- پایله ........ ۱۱

## مقدمه

د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحليل په دې ګڼه کې، چين ته د افغان طالبانو د يوه پلاوي د سفر او د افغان "ملي وحدت" حکومت د سلو لومړيو ورځو د ارزونې په تړاو، د مرکز د څېړنيزې څانګې شننې لولئ.

د نوي افغان حکومت د جوړېدو سل ورځې پوره شوې، چې تراوسه يې نه يوازې دا چې کومې د پام وړ لاسته راوړنې نه دي درلودلې، بلکې د داخلي اختلافاتو له کبله يې د نوې کابينې اعلان او ځينې نور مهم کارونه هم ځنډېدلي دي.

همدا راز د نوي حکومت له جوړېدو او بيا چين او پاکستان ته د ولسمشر غني له سفرونو وروسته د افغانستان د سولې په قضيه کې د چين د منځګړيتوب په اړه ګنګوسې زياتې شوې دي، چې ورسره هم مهاله تېره اوونۍ چين ته د طالبانو د يوه پلاوي د غير رسمي سفر په اړه خبرونه هم خپاره شول. که څه هم د دغه سفر په اړه رسنيو ډېر څه خپاره کړل؛ خو تراوسه د دغه سفر او مذاکراتو جزئيات نه دي روښانه شوي.

دا چې چين ته د طالبانو دغه سفر څه پيغامونه له ځان سره درلودل او چين د افغان سولې په بهير کې څه رول لوبولی شي؟ او دغه راز په تېرو سلو ورځو کې د نوي حکومت برياوې او ناکامۍ کومې وې؟ هغه موضوعات دي، چې دلته يې د شننو تفصيل لولئ:

# طالبان در چین!



روز پنجشنبۀ هفتۀ گذشته یکی از رسانه‌های پاکستانی بنام "دی نیوز انترنشنل" فاش کرد که یک هیأت دونفره از دفتر سیاسی طالبان در قطر، تحت ریاست قاری دین محمد حنیف به چین سفر کرده و با مقامات آن کشور مذاکراتی را انجام داده است.

در این خبر در مورد جزئیات مذاکرات چیزی گفته نشده بود و این مسئله موجب شد تا شایعاتی زیادی در این مورد صورت بگیرد؛ بعضی‌ها حتی گفتند که این سفر با وساطت سازمان آی اس آی پاکستان انجام شده است و عده‌ای نیز مدعی شدند که در این مذاکرات، طالبان خواهان سپردن یک ولایت به آنان شده اند تا در آنجا مصؤون باشند!!

## پس منظر این سفر:

سال ۲۰۱۴ برای افغانستان سالی مهم وسرنوشت سازی بود. از آغاز سال گذشته مشخص بود که انتخابات در افغانستان برگزار خواهد شد و در پایان سال نیز نیروهای ناتو ماموریت جنگی خود را در افغانستان به ماموریت آموزشی و مشورت دهی تغییر خواهند داد.

کشورهای همسایه و منطقه نگران اوضاع افغانستان بودند و زمانیکه انتخابات پر تقلب افغانستان به دور دوم رفت، مشخص بود که بحران سیاسی در راه است. از جانب دیگر جنگ سیزده سالۀ امریکا در افغانستان نیز به اهداف خود نرسید. پس در شرایطی که امریکا در افغانستان، هم در عرصۀ نظامی و هم در ساحۀ سیاسی برای ایجاد یک حکومت با ثبات در افغانستان ناکام ماند، کشورهای منطقه و همسایه که از بحران افغانستان بصورت مستقیم احساس خطر می‌کنند، از این وضع نگران شدند و تصمیم گرفتند تا با طالبان مذاکراتی را به منظور دریافت نظر آنان در مورد آیندۀ افغانستان آغاز نمایند.

مسئلۀ دیگر نگران کننده برای کشورهای منطقه، تحولات شرق میانه بود که در نتیجۀ خروج امریکا از عراق، گروهی تندروتر از القاعده سر بلند کرد. کشورهای منطقه به این باور اند که دوام جنگ در افغانستان حتی اگر به تضعیف طالبان منجر گردد، ممکن است به گروه‌های تندروتری چون گروه "دولت اسلامی" مجال فعالیت در این منطقه را فراهم سازد زیرا ریشۀ تمام ناامنی‌های امروز تاحدی به افغانستان نیز مربوط است.

این نخستین سفر هیئتی از طالبان به چین نیست و طالبان حتی قبل از رفتن اعضای دفتر سیاسی شان به قطر نیز با چین در رابطه بودند. زمانیکه چین وافغانستان قرارداد معدن مس عینک را امضا کردند، در آن زمان نیز هیئتی از طالبان به چین سفر کرده بود.

## نقش چین در تامین صلح در افغانستان:

رئیس جمهور غنی در دومین سفر خود بعد از ادای سوگند به عنوان رئیس جمهور، بعد از عربستان سعودی به چین رفت و در دیدار با مقامات چین ابراز امیدواری نمود که کشور چین به عنوان دوست نزدیک پاکستان، روی این کشور فشار آورد تا در پروسۀ صلح افغانستان نقش مثبت ایفا نماید و مقامات چینی نیز در این رابطه ابراز آمادگی کردند.

سفر هیأت طالبان به دعوت غیررسمی مقامات چینی از این کشور صورت گرفت و هدف چینی‌ها از این مذاکرات این بود تا در بعد از خروج کامل نیروهای خارجی از افغانستان در سال ۲۰۱۶، نظر طالبان را در مورد آیندۀ افغانستان بدانند. هرچند شایعاتی هم در رسانه‌های افغانستان در مورد خواست‌های طالبان به نشر رسید؛ اما این شایعات را نمی‌توان چیزی جز نوعی غیب‌گویی دانست زیرا در صورتیکه حتی مشخص نیست اعضای هیئت طالبان غیر از دین محمد حنیف چه کسانی بوده اند، پس چگونه این رسانه‌ها حتی به اجندای مذاکرات پی برده اند؟!

اما نشانه‌هایی از تغییر موضع را می‌توان از موضع گیری‌های طرف‌های مختلف درگیر در قضیۀ افغانستان مشاهده کرد. طالبان به کشورهای دیگر اطمینان می‌دهند که نمی‌خواهند در آینده از خاک افغانستان مشکلی برای دیگران ایجاد نمایند. این اطمینان آنان با اعلام امریکا مبنی بر اینکه بعد از سال ۲۰۱۴ طالبان و رهبر آنان ملامحمد عمر را در صورتیکه منافع امریکا را تهدید نکند، هدف قرار نمی‌دهد، همخوانی دارد.

## استفاده از تجربۀ گذشته:

طالبان باید تجربۀ ناکام مجاهدین در زمان خروج نیروهای اتحاد شوروی از افغانستان را، در نظر داشته باشند. زمانیکه اتحاد شوروی در سال ۱۹۸۹ نیروهای خود را از افغانستان بیرون نمود، مجاهدین افغان به چند مشکل مواجه بودند:

۱- مجاهدین درمیان خود به گروه‌های مختلف و حتی متخاصم تقسیم شده و فاقد وحدت نظر بودند؛

۲- مجاهدین به هیچ نقشی برای دولت داکتر نجیب در آیندهٔ کشور قایل نبودند؛

۳- نیروهای مسلح کشور را دشمن می‌دانستند که باید منحل می‌شدند؛

۴- در مذاکرات میان شوروی، امریکا و دولت کابل، مجاهدین شامل نشدند و بجای آنها پاکستان در مذاکرات ژنو سهم داشت؛

۵- مجاهدین از تحولی که با سقوط حکومت داکتر نجیب الله در راه بود، هیچ تصور روشنی نداشتند و در نتیجه با وجود اینکه زمان کافی برای آماده شدن داشتند، غافلگیر شدند؛

۶- مجاهدین دچار این اشتباه شدند که چون خدمت بزرگی به غرب انجام داده‌اند، بنابراین امریکا و غرب با تمام نیرو در کنار حکومت آنان خواهد ایستاد و به مشکلی مواجه نخواهند شد که این تصور شان غلط بود؛

۷- جنگ سرد پایان یافته بود، اما رهبران مجاهدین هنوز هم اوضاع را با معیارهای دوران جنگ سرد تحلیل می‌کردند.

تحولات منطقوی وجهانی هم بر وفق مراد مردم افغانستان نبود. از آن جمله اینکه یکی از طرف‌های اصلی تعهد کننده در قرارداد ژنو یعنی اتحاد شوروی ناگهان فروپاشید و از میان رفت.

از جانب دیگر کشورهای منطقه و همسایه هم علاقه‌ای به حل مشکل افغانستان نداشتند بلکه هرکدام در صدد دوام جنگ نیابتی در افغانستان بودند.

به همین دلایل مجاهدین نتوانستند بعد از سرنگونی دولت داکتر نجیب الله میان خود به تفاهم دست یابند و افغانستان صحنهٔ جنگ بر سر قدرت میان آنها گردید.

به همین دلیل طالبان می‌خواهند با امریکا مستقیما داخل مذاکره گردند و اعلام داشته‌اند که خواهان انحصار قدرت نیستند. آنها برای حل مشکل افغانستان به مذاکره و تفاهم ابراز آمادگی نموده‌اند و نقش کشورهای منطقه در میانجیگیری را هم مهم می‌دانند.

طالبان در مقایسه با مجاهدین این مزیت را دارند که تاکنون از رهبری واحد برخوردار اند. نقش حکومت افغانستان در آیندهٔ افغانستان را رد نمی‌کنند بلکه تمایل به شرکت در قدرت دارند. و از همه مهمتر اینکه تجربهٔ اشتباهات مجاهدین می‌تواند درس مهمی برای آنان باشد. اینها نشانه‌های مثبت برای رسیدن به صلح در این کشور جنگ زده است.

## د "ملي وحدت" حکومت لومړی سل ورځې



د نړۍ په کچه په جمهوري حکومتونو کې د حکومت لومړی سل ورځې ډېرې ارزښتناکې وي. هر حکومت په دغو سلو ورځو کې کابینه اعلانوي او د راتلونکو کلونو لپاره خپله تګلاره روښانه کوي. د دې ترڅنګ نه یوازې دا چې حکومت په همدغو سلو ورځو کې په خپلو ژمنو عملي کار پیلوي، بلکې د حکومت راتلونکی هم د همدغو سلو ورځو له مخې ارزول کېږي.

دا چې په افغانستان کې د ملي وحدت په نوم حکومت څه ډول د افغانستان د تاریخ تر ټولو اوږدې ټاکنیزې پروسې په پایله کې جوړ شو، ډېره مهمه نه ده؛ بلکې مهمه دا ده، چې که د نوي حکومت سل لومړی ورځې کارونه وارزول شي، نو جوته به شي چې دغه حکومت په ډېرو ډګرونو کې له ناکامیو سره مخ دی.

د ملي وحدت حکومت د ۲۰۱۴ کال د سپتامبر میاشتې په ۲۹مه لوړه وکړه او د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ په ٦مه یې سل ورځې پوره شوې؛ خو پوښتنه دا ده، چې نوي حکومت په دغو سلو ورځو کې څه لاسته راوړنې درلودې او څه یې بایللي دي؟

### داخلي سیاست:

د ملي وحدت حکومت له جوړېدو سره هېواد په داخلي چارو کې له سختو ننګونو سره مخ شو، ورځ تر بلې په هېواد کې بې ثباتي او ناامني زیاته شوه او کابینه، چې د حکومتونو اصلي ستنه ګڼل کېږي، لا تراوسه نه ده اعلان شوې.

د "سل ورځې" په نوم وېبپاڼې د ائتلافي حکومت په لومړیو سلو ورځو کې د ولسمشریزو ټاکنو د دوو مخکښو نوماندانو د هغو ژمنو ارزونه کړې، چې دوی په خپلو ټاکنیزو منشورونو، تلوېزیوني مناظرو او له رسنیو سره د مرکو له لارې له خلکو سره کړې وې. دې وېبپاڼې د خپلې ارزونې له کړنلارې او څېړنبود سره سم، د دواړو مخکښو نوماندانو هغه ۱۱۰ ژمنې رااخېستې، چې په لومړیو سلو ورځو کې یې بشپړولی او یا هم لږترلږه کار پرې پیلولی شوی.

د دغې وېبپاڼې د څېړنې له مخې، ائتلافي حکومت په لومړنیو سلو ورځو کې ایله په دې وتوانېد، چې خپلې څلور ژمنې بشپړې او په ۲۳ نورو کار پیل کړي؛ خو پر پاتې ۸۳ نورو یې تراوسه لا کار هم نه دی پیل کړی[1].

ترسره شوې ژمنې د ولسمشر د دفتر له ریاست سره د چارو د اداري یوځای کول، د امریکا له متحده ایالاتو او ناټو سره د امنیتي تړونونو لاسلیک، د نیویارک ټایمز له خبریال څخه په افغانستان کې د کار بندیز لرې کول او معلوماتو ته د لاسرسي د قانون لاسلیک او پلي کول وو[2].

## امنیتي وضعیت:

د ټاکنیزو کمپاینونو پر مهال دواړو مخکښو نوماندانو ژمنه کړې وه، چې تر ټولو لومړی کار به یې له امریکا او ناټو سره د امنیتي تړون لاسلیک کول وي، چې د لوړې له مراسمو ۲۴ ساعته وروسته یې دواړه تړونونه لاسلیک کړل. د ځینو شنونکو په اند، دا کار د ټول هېواد په کچه د ناامنیو او بې ثباتۍ د زیاتېدا یو لامل هم شو، چې ان یوازې په پلازمېنه کابل کې د نوي حکومت له جوړېدو وروسته په دوو اوونیو کې تر لسو زیاتې خونړۍ چاودنې وشوې.

د ناامنیو دا لړۍ تراوسه هم دربدلې نه ده او تقریباً د دغو سلو ورځو په بهیر کې د ناټو ځواکونو په بمباریو، د بې پیلوټه الوتکو په بریدونو، د وسلهوالو مخالفینو په چاودنو او د افغانستان د ملي اردو ځواکونو په بریدونو کې سلګونه ملکي وګړي ووژل شول، چې د مثال په ډول یې څو پېښې یادولی شو:

د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر په ۲۷مه په لوګر کې د ناټو ځواکونو په هوايي برید کې ۵ تنه ملکي وګړي ووژل شول او شپږ نور ټپيان شول.[3] همدا راز د ۲۰۱۴ کال د دسامبر په ۱۱مه بهرنیو ځواکونو، د پروان ولایت په سیاګرد ولسوالۍ کې د ښوونځي پر ماشومانو بمباري وکړه او ۵ تنه یې ووژل.[4]

---

[1] 100-Day Performance Report National Unity Gov't, a report by sadroz.af. see it online: http://sadroz.af/docs/report-en.pdf

[2] تېر مأخذ

همدارنګه د نوي حکومت له جوړېدو وروسته په لسو ورځو کې، یوازې په کابل کې ۱۲ درنې چاودنې وشوې، چې ولسي وګړو ته هم درنه مرګ ژوبله پکې واوښته.

د ملي اردو په بریدونو کې، یوازې د هلمند ولایت په سنګین ولسوالۍ کې نژدې ۳۰ تنه ملکي وګړي ووژل شول او تر ۷۰ زیات ټپیان شول.[5]

## د کابلبانک قضیه او اداري فساد:

بله قضیه چې اشرف غني له خپل راتګ سره سملاسي پرانېستله د کابل‌بانک قضیه وه. د کابلبانک د قضیې له پرانېستلو او د اداري فساد پر ضد د ولسمشر غني د هوډ له کبله افغانستان دا ځل د شفافیت د نړیوالې ادارې په نوي کلني راپور کې، د نړۍ په کچه په اداري فساد کې له اول نه څلورم مقام ته راښکته شو[6]. که څه هم په دې اړه لویې څارنوالۍ خپله وروستۍ پرېکړه هم صادره کړه[7]؛ خو بیا هم نه یوازې دا چې له ۸۰۰ ملیونه ډالرو څخه زیاتې پیسې نه دي ترلاسه شوې، بلکې په دې قضیه کې ښکېل کسان هم نه دي نیول شوي.

د شنونکو په اند، نه یوازې دا چې د نوي حکومت مشران په تېرو څه باندې درېو میاشتو کې تر ډېره د خپلمنځي اختلافاتو ښکار ګرځېدلي او په راتلونکې کې هم د دغو اختلافاتو د لازیاتېدو وېره شته ده؛ بلکې د ضعیف مدیریت له کبله یې د دوی پر وړتیاوو هم بې باوري زیاته شوې ده.

---

[3] NATO Airstrike Kills 5 in logar, Tolo News, 27 Dec 2014, see it online: http://www.tolonews.com/pa/afghanistan/17617-nato-airstrike-kills-5-in-logar

[4] see it online: http://www.1tvnews.af/ps/news/afghanistan/14034-2014-12-11-07-35-19

[5] see it online: http://www.tolonews.com/fa/afghanistan/17695-ana-soldiers-held-on-helmand-wedding-party-attack

[6] د زیاتو معلوماتو لپاره ولولئ، د ټرانسپیرینسي انټرنیشنل کلنی راپور:

http://www.transparency.org/country#AFG

[7] ستره محکمه، فیصله نهایی اش را در رابطه به قضیه کابل بانک ابلاغ کرد، آزادي راډیو، ۱۳۹۳-۹-۱۳، پر لیکه یې ولولئ:

http://da.azadiradio.org/content/article/26724552.html

## خارجي سیاست:

په لومړیو سلو ورځو کې د افغانستان د راتلونکي په تړاو مهمې پرېکړې او غونډې ترسره شوې. د حکومت ترټولو مهم کار امنیتي تړونونه لاسلیک کول وو او په ټوله کې د ولسمشر کرزي په پرتله د لوېدیځ په لور د اشرف غني تمایل او نرم دریځ په بهرني سیاست کې مهم بدلون و.

خو پر دې سربېره د سیمې له هېوادونو سره د اړیکو په برخه کې ترسره شوي دوه اړخیز سفرونه او ځینې نورې پېښې هم د پام وړ وې، چې په چین کې د اسیا زړه هېوادونو (استانبول پروسې) څلورمه غونډه، د نیپال په پلازمېنه کټمندو ښار کې د سارک سازمان اتلسمه غونډه، د ناټو د بهرنیو چارو وزیرانو غونډه او د لندن کنفرانس یې د یادولو وړ دي، چې په ټوله کې یې هغسې پایلې، چې تمه یې کېده، نه درلودې.

## سوله او د سیمې هېوادونه:

که د ولسمشر اشرف غني بهرنیو سفرونو ته وکتل شي، نو جوتېږي چې ده په خپل بهرني سیاست کې له خپلو ژمنو او منشور سره سم ګاونډیو هېوادونو او اسلامي نړۍ ته ارزښت ورکړی او له همدې لارې غواړي، چې په هېواد کې سوله ټینګه کړي؛ خو دا پوښتنه چې ایا ښاغلي غني د سولې د ټینګولو په لاره کې بریالي ګامونه اوچت کړي کنه؟ یوازې د سلو ورځو پر هلوځلو نه ځوابېږي. که په ظاهري ډول د اشرف غني بهرنیو چارو ته وګورو، نو یوازې په همدې ډګر کې یې ځینې بریالیتوبونه لرلي دي.

دا چې ولسمشر اشرف غني سوله د خپل هېواد لومړیتوب بولي؛ نو د ولسمشر په توګه له ټاکل کېدو سره سم یې، د سولې په تړاو له سیمه ییزو لوبغاړو (ترکیې، سعودي، چین او پاکستان) سره د اړیکو د پراختیا هلې ځلې پیل کړې.

سعودي ته د اشرف غني سفر له ژمنې سره سم د عمرې په موخه ترسره شو، خو ترڅنګ یې هلته نوموړي د سعودي له ولیعهد او دفاع وزیر شهزاده سلمان بن عبدالعزیز آل سعود سره هم وکتل او د سولې په تړاو یې خبرې ورسره وکړې؛ ځکه سعودي عربستان د افغانستان په قضیه کې په تېره بیا د سولې په موضوع کې او له طالبانو سره د خبرو اترو په برخه کې مهم رول لري.

د ترکیې ولسمشر اردوغان هم د ترکي ولسمشر په توګه له شاوخوا پېنځو لسیزو وروسته کابل ته راغی. ترکیه په افغانستان کې ځانګړی رول لري؛ ځکه ترکي که له یوې خوا افغانستان ته د ناټو په چوکاټ کې خپل سرتېري رااستولي؛

خو له بلې خوا یې د دولت له وسله والو مخالفینو سره په نظامي عملیاتو کې ګډون نه دی کړی. همدا لامل دی، چې طالبان هم ترکیې ته په درنه سترګه ګوري او د افغانستان په قضیه کې یې رول له اهمیته برخمن دی.

د دې ترڅنګ ترکیه د سعودي او چین ترڅنګ، له پاکستان سره هم ستراتېژیکې اړیکې لري، چې په ټولیز ډول همدا هېوادونه د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د یوه پول رول ادا کولی شي؛ اوسنی حکومت هم له همدې کبله له دغو هېوادونو سره د ژورو اړیکو جوړول غواړي.

همدا راز اشرف غني د چین اقتصادي پرمختګ ته په کتلو سره، چین ته خپل لومړنی رسمي بهرنی سفر وکړ. ښاغلي غني په دې سفر کې له یوې خوا د دغو دوو هېوادونو ترمنځ د اړیکو یو نوی فصل پرانېست، له بلې خوا یې هڅه وکړه چې د اوږدمهالو اړیکو لپاره یو پوخ بنسټ هم کېږدي.

دا سفر د سولې د بهیر په اړه هم یو مهم ګام وبلل شو. د همدغه سفر پر مهال چین هیله څرګنده کړه، چې د طالبانو، پاکستان او افغان حکومت د استازو یو ګډ کنفرانس جوړ کړي. په دې اړه تراوسه- د اشرف غني له سفر څخه یوازې څو اوونۍ وروسته- د طالبانو د استازو یوه پلاوي، چې مشري یې قاري دین محمد حنیف کوله، چین ته سفر کړی خو د سفر جزئیات یې تراوسه نه دي روښانه شوي.

ښاغلي غني د دې ترڅنګ په بېجېنګ کې د اسیا زړه هېوادونو (استانبول پروسې) په څلورمه غونډه کې، چې د ایران، پاکستان او هند په ګډون د ۱۴ هېوادونو استازو پکې ګډون کړی و، برخه واخېسته او هلته یې په خپله وینا کې وویل: «سوله زموږ اساسي لومړیتوب دی، له سیاسي مخالفینو په تېره بیا طالبانو غواړو، چې په بین الافغاني تفاهم کې ونډه واخلي او له نړیوالو څخه غواړم، چې د افغانستان د سولې د بهیر ملاتړ وکړي.»

اشرف غني د پاکستان دوو ستراتېژیکو ملګرو هېوادونو (سعودي او چین) ته له سفر وروسته د پاکستان ته په رسمي سفر ولاړ، چې همدې سفر بیا د کابل-اسلام اباد ترمنځ د نویو اړیکو تهداب کېښود او تر ډېره یې د حامد کرزي د واکمنۍ بې باوري له منځه یوړه. اشرف غني د باور جوړونې په موخه پاکستان ته یو لړ امتیازات هم ورکړل، چې په دې جمله کې له هند څخه د درنو وسلو د رانیولو قرارداد فسخ کول، د پاکستان له خوا د افغان سرتېرو روزنه او د "کاسا-۱۰۰۰" پروژه کې د برېښنا ترانزیټي فیس له ۲.۵۰ سېنټو څخه ۱.۲۵ سېنټو ته راکمول شامل وو. دغه راز پاکستان هم د ترانزیټ په برخه کې د افغان لوري د اندېښنو او ستونزو د له منځه وړلو ژمنه وکړه، چې تر اوسه په دې تړاو ځینې مثبت پرمختګونه هم شوي دي.

**پایله:**

که څه هم یوازې د لومړیو سلو ورځو له مخې د نوي حکومت د بریا او ناکامۍ پوره ارزونه هم نه شي کېدای؛ خو لږترلږه دا ترې جوتېږي چې د نوي حکومت مدیریت او وړتیا په کومه کچه کې ده. په دغو سلو ورځو کې د ولسمشر او اجرائیه رییس له خوا د بنسټیزو بدلونو، اصلاحاتو او رغنده طرحو څرک ونه لګېد؛ ځکه نو ویلای شو چې د ملي وحدت حکومت تراوسه په داخلي کچه کومه د پام وړ لاسته راوړنه نه ده درلودلې او راتلونکی یې پیکه ښکاري.

له بله پلوه اشرف غني په دې سلو ورځو کې له چین، سعودي عربستان، ترکیې او لوېدیزې نړۍ سره د اړیکو ښه کولو او پراختیا هڅه وکړه؛ ځکه همدا هغه هېوادونه دي، چې د افغانستان د سولې په بهیر او اقتصادي پیاوړتیا کې مهم رول لوبولی شي.

که څه هم ګډ حکومت په بهرني سیاست کې بریالیتوبونه درلودل؛ خو یو څه چې په دې سلو ورځو کې سمه پاملرنه ورته ونه شوه، هغه د هند اندېښنې دي، چې ورځ تر بلې زیاتېږي. هند د حامد کرزي له حکومت سره ښې اړیکې درلودې؛ خو اوس بیا نه یوازې دا چې د خپلو ملیاردونو ډالرو پانګونو له کبله اندېښنه لري؛ بلکې له دې هم وېرېږي، چې هسې نه کابل، اسلام اباد ته ډېر نژدې شي او نوی ډیلی له پامه وغورځوي. له همدې امله کابل ته ښايي چې د اسلام اباد او نوي ډیلي ترمنځ دیپلوماتیک توازن وساتي؛ ځکه افغانستان د امیر شېرعلي خان خبره، د ترازو د شاهین حیثیت لري، که په یوه لور مخه کړي، نو نه یوازې دا چې بل لوری به له لاسه ورکوي، بلکې په افغانستان کې به د نیابتي جګړې پیلامه هم کېږي.

پای


**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (93+)